


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

تاریخ نشر: 17 نوامبر 2023 میلادی

# غزل

پل پر پل ګورمه لاره خو ته نه یې
لا دې پوښتمه هینداره خوته نه یې
چا وې ډک زړونه تشېږي په ویلو
له ګیلو یمه سرشاره خو ته نه یې
د سپېدو سره وعدې به شوې تر سرې
اوس زه ناست یم تر سهاره خو ته نه یې
لټوومه دې دهسکو په مروتو
دقاف غرونو پریواره خو ته نه یې
سندریز به دې دزلفو ستا ماښام کړم
زه لا مست له یله زاره خو ته نه یې
نن دې بربنډوخیالونو بیا په غریو کړم
یم وتلی له اختیاره خو ته نه یې
ما وې مستې کړم نینې پر اننګو دې
هره مچه په سل واره خو ته نه یې
ستا حیا دې دثواب خم کي غوټه شي
زه دې اوسم ګنهګاره خو ته نه یې
کړي فردا ستا له ها ښکلي دنیاګی نه
دنیا خپله به درخاره خو ته نه یې
***

فاروق « فردا »
د اکتوبر ۶ مه ۲۰۲۳

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org